مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۱۰/۰۶

# مایوسي

زما درد، سټریا او مایوسي هیڅ د کمېدو نوم نه اخلي!
ژوره خاموشي مې تر روحه رسېدلې.

په زړه مې یو لوی خونخوار ډار کېناستلی.

بې سببه خفګانونو پسې اخیستی یم.

له مسلسل منډو تړړو مې عضلات فلج دي او ارام راته له اوو سمندرونو هاخوا نوم ګرځېدلی.
خو له دې هر څه سره سره؛

نه غواړم ژر ومرم؛

فقط د خپلو هیلو پوره کولو په خاطر.

ستا د اخري ځل لیدو په سبب او د څو جلدو وروستیو هغو کرښو په خاطر چې ما یې لا لیکلو ته ملغلرین توري موندلي نه دي.

مرګ حق دی، که ۶۰ کلنی یا ۷۰ کلنی کې ومرم، دا یو نارمل پدیده ده. خو د ځواني مرګ تر شا زرګونه افسوسونه پرېږدي.

زما کرکه کیږي چې څوک مې له نوم اخیستلو سره ځوانیمرګ ووایي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ